غلام محمد زرملوال ۲۰۱۱/۱۰/۰۷

# احمدشاه ابدالي جرگه

له کاندید اکادمیشین استاد سیستاني سره د زړه خواله

ځان به ويش کړو هرې خوا ته ...... هرې خواته رقيبان دي
يو پر بل مو سره وژني ...... وايي خپل يو، غليمان دي
احمدشاه بابا

هرکه پا کج میگذارد، خون دل ما میخوریم

دا په غټو ټکو ليکل شوی هغه عنوان دی چې استاد سيستاني ترې لاندې خپله اوږده مقاله ليکلې او په افغان جرمن آنلاين کې په ۲۸- ۹- ۲۰۱۱ زيږديز کال خپره شوې وه. يواځې دا عنوان کفايت کوي چې د استاد د خواشينۍ کچه و سنجولی شي.

استاد پخپله مقاله کې ليکي چې: "در نیم قرن گذشته دولتمردان افغانستان زیر نام "داعیه پشتونستان" برای مردمان آنسوی خط دیورند از سیاست "حق خود ارادیت" حمایت میکردند، ولی اکنون ما در برنامه "دیورند جرگه" شاهد قرائنی دیگر ازداعیه پښتونستان و خط دیورند هستیم. سخنرانان این برنامه مسئله "حق خود ارادیت" باشندگان آنسوی خط دیورند را از قلم انداخته و مدعی پس گرفتن اراضی آنسوی خط هستند. برنامه ساز (آقای صدیق متین) توضیح نمیدهد که با کدام وسایل و امکانات نظامی و مالی و پشتوانه مردمی میخواهد حق تعین سرنوشت باشندگان آنسوی خط دیورند را از آنها سلب کند و الحاق مجدد آن مناطق را با افغانستان تحقق بخشد؟"

دې پراګراف ته د ځواب ورکولو په تکل اړينه ده چې لومړی د "ډيورند لاين" د چيرته والي او څه والي په اړه مطالب راټول کړو:

د امير عبدالرحمن خان له ژوند ليک، تاج التواريخ، څخه دا خبره په غوڅه توګه جوته ده چې نوموړی او پرنګی دواړه د يوه بل پر عزايمو شکمن وو. له همدې کبله ده چې، د وخت له تيريدو سره، د برتانوي کلونياليزم واکدارانو له خوا د امير تعريف او پيژندتيا په بدليدو وه. د برتانوي هند د بهرنيو چارو وزير، مورټايمر ډيورند، په يوه وينا کې امير عبدالرحمن "سرټمبه او د ناباور وړ متحد" بللي.

د ۱۹ پيړۍ په وروستۍ لسيزه کې د برتانيا پرخلاف د افغانستان په هر ګوټ کې د افغان ملت د پاڅون په اړه د يوه رپوټ په ترڅ کې، يو برتانوی افسر، ليفټيننټ ټي - پي ډوډل، ليکي چې "د افغانستان امير، له موږ سره د انډيوالۍ له اظهار او ډيورند لاين سره-سره، په دې نارامیو کې لاس لري. درې مياشتې پخوا په ۱۸۹۷ کال کې امير دافغانستان هرې برخې ته خپل کسان استولي وو چې اولس د جهاد لپاره چمتوکاندي... نوموړي بيا اتيا زره توپک (چې په کابل کې د انګريزي ماهرانو تر لارښوونې لاندې جوړيدل) په دوه-عشاريه شپږ بيه [مالومه نه ده چې په "دوه روپۍ او شپږ آنې او يا په دوه شلينګه او شپږپنسه – څکه چې په انګريزي متن کې each- 6/2 ويل شوي] په سرحد کې پر خلکو پلورلي دي. د دې کار په کولو نوموړی له دې کبله توانېدلی چې له موږ سره د هغه د انډيوالۍ د تضمين لپاره د سبسايډي په توګه ډيرې پيسې ورکوو." [ويکتوريا سکوفيلډ – ۱۰۷ مخ]

په هرحال، په هغه وخت کې يې "اوسپنيز امير" ته اړتيا لرله او له همدې کبله يې په خپل څنګ کې ساتۀ. مګر کله چې "برتانوي راج" د افغانانو پرضد "فارورډ پاليسي" بيا پيل کړه، نو له عبدالرحمن خان سره د "انډيوالۍ" نقاب يې څيرې شو. زړې پاليسۍ ته د پرنګي د بيا ګرځيدو نښې هغه وخت څرګندې شوې کله چې کلونيلستي حاکمانو د خپلو پوځونو د خوځولو او اډه کولو په موخه په ختيځ او سهيلي افغان-خاوره کې د سړکونو او ريلګاډو په جوړولو لاس پورې کړ. د دې غزونو په منځ کې يو هم په بولان کنډو او په کوژک غره کې د تونلونو پريکول وو. دا له کوټې تر چمن پورې په پنځوس ميله واټن کې بنا شوي وو. پدې هکله د خپلې غوسې او ناتوانۍ د ښودلو په ترڅ کې، امير عبدالرحمن خان په خپل ژوند ليک کې وايي چې: "د کوټې-چمن د ريلګاډي پټلي د يوې چړې په شان ده چې زما ځيګر څيري".

د امير او پرنګي واکمنو تر منځ د تاوتريخوالي بل لامل دا و چې عبدالرحمن خان د ملي مسايلو په هکله د ګرد افغانستان له قومي اوقبايلي مشرانو سره سلا کولو ته دوام ورکاوه. امير دا خپل حق بالۀ چې له هغوافغانانوسره، چې سيمې يې د ګندُمک د توافق پر اساس برتانيا ته په کرايه ورکړ شوې وې، په تماس کې وي. پدې برخه کې په "ليز" ورکړ شويو ځمکو کوم محدوديت نه و لګيدلی اونه امير عبدالرحمن په کښې کوم منطق ليد.

د ګندُمک پوهاوي ليک په نهمه ماده کې ويل کيږي:


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۹ ماده: د دواړو دولتونو ترمنځ د دوستی د اتحاد د نوي کېدلو په پام کې نیولو سره، چې [د دې پوهاوي لیک] د مخکنیو مادو په ترڅ کې تائید او خوندي شوی دی، د برتانیا حکومت د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر ته د کندهار او جلال اباد ښارګوټي ـ له کُرمې، پشین او سیبي پرته ـ د ګردو هغو سیمو په ګډون چې دا اوس د برتانیا د پوځ په لاس کې دي بېرته ور سپاري. د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر، له خپله لوري، موافقه کوي چې د کُرمې، پشین او سیبي سیمې به، [له دې لاسوند] د مله [ضمیمه] پلان له حدودو سره سم، د برتانیا د حکومت تر حمایې او ادارې لاندې پاتې شي. د دې مانا دا ده چې نوموړې سیمې به د ګومارل [کرایه – [Aassigned] شوېو سیمو په توګه پېژندل کېږي او په داسې توګه به ورته نه کتل کېږي چې ګوندې هغه د افغانستان د سلطنت له پولو څخه د تل لپاره جلا شوې وي. د دغو سیمو عایدات به، د اداري لګښتونو له اخستلو وروسته، جلالتمآب امیر ته ورکول کېږي. د برتانیا حکومت به د خیبر او مېچنی کنډوونو کنترول، چې د پېښور او جلال اباد د ضلعو] سیمو] ترمنځ پراته دي ـ او له هغو ازادو قبایلو سره د اړیکو پر ګډون چې له دې کنډوونو سره سیده تعلق لري ـ هم تر خپل کنترول لاندې وساتي .
نو پدې توګه که څه هم چې امیر د خپل قدرت په مقابل کې د ګڼ- شمیر بغاوتونو په ځپلو لګیا و، د کلونیالیزم پرخلاف یې مقاومت هڅاوه او ملاتړیې کاوه. له همدې کبله و چې مورټایمر ډیورند، "ډیورند لاین" (چې نه په ډیفکټو اونه ډیجور بڼه وجود لري یواځې یوه خیالي او سایکولوژیکي کرښه ده) په یوه اړخیزه توګه پر امیر تحمیل وګاڼه ترڅو یې په هغو سیموکې د "نفوذ ساحه"، چې پرنګي ته – د "نظم او قانون" د ساتلو په موخه، په کرایه [لیز] ورکړل شوې وې، محدوده کاندي.
پدې وروستیو کې د یوه افغان لوړپوړي چارواکي په قول، چې په افغانستان کې د بهرنیو چارو د وزارت ارشیفونو ته مخامخ لاسرسی لري، وایي چې په یوه لوله کې خوندي شوی سند یې چې د "ډیورند لاین" د توافق-لیک په توګه خوندي کړل شوی و، راویوست. پرې کوم لاسلیک موجود نه و.
د "نفوذ ساحې" د محدودولو په هکله دا پوهاوی لیک د "۹۹ کلونو" لپاره د اتبار وړ و چې د هغې نیټې له بشپړیدو وروسته باید بشپړه افغان-خاوره افغانانوته ورسپارل شوې وای.
یواځې له افغانستان سره داسې پوهاوی لیک نه و شوی، بلکې دا د هغې زمانې د پرنګي دودیزه کړنلاره وه. له تزارې روسیې سره د ۱۹۰۷ کال په کنوانسیون پسې، ایران هم د برتانیا او روسانو تر منځ د "نفوذ ساحو" په ترڅ کې ویشل شوی و. پدې هکله یې ترمنځ یو پوهاوی لیک لاسلیک شوی و چې پر بنسټ یې هغو "دوو زبرځواکونو" ایران د نفوذ پر دوو سیمو وویشه: سهیل یې د برتانیا د نفوذ سیمه؛ شمال یې د روسیې د نفوذ ساحه؛ او تر منځ یې یوه بېطرفه سیمه پرېښې وه چې په هکله یې "دواړو خواو ژمنه وکړه چې هلته به د ځانګړو ګټو غوښتنه نه کوي." د روسانود نفوذ ساحه تر برتانوي نفوذ-سیمې څخه ستره وه، چې پکې تهران هم شامل و. خو په سهیل کې د برتانیا د نفوذ په ساحه کې تیل موجود وو، چې په هغه دم د اخراجولو په درشل کې و !!
په ۱۸۹۷ کې د چین خاوره، هانکانګ، برتانیا په کرایه واخسته. پدې اړه پوهاوی لیک د "۹۹ کاله" مودې لپاره د اتبار وړ و. له هغه وروسته باید هانکانګ چین ته ورسپارل شوی وای.
له نړیوالې دویمې جګړې وروسته برتانیا او روسیې، چې ایران یې مخامخ اشغال کړی و، په ایران کې له خپلو د "نفوذ سیمو" څخه ووتل اوایران بشپړ خوندي ایران ته وسپارل شو.
له ۹۹ کلنې مودې بشپړېدو وروسته، هانکانګ هم په ۱۹۹۷ کې چین ته وسپارل شو.
له افغانستان سره څه وشول:
لاسوندونه د دې واقعیت ښکارندوی دي چې "په هغه وخت [۱۸۹۳] کې پر دې موافقه شوې وه – چې د هانګانګ پر مودل – له ۹۹ کاله لیز وروسته به هغه سیمه چې د برتانوي هند شمالي صوبه سرحد په نوم یاده شوه – بیرته افغانستان ته وروسپارل شي. په کابل کې هیڅ یوه حکومت هم ډیورند لاین او په دې سیمه د برتانیا او یا وروسته بیا پاکستان ولکه منلې نه وه ".
خو افغان ملت د پرنګي انتقام دردوونکې څپېړې سره مخامخ شو .
خپل مورني هیواد ته د بیرته ورسپارلو پر ځای، افغان ملت او خاوره یې د برتانیا " په دفاعی او تعرضي پوځې اډه واړول شوه " چې په منځني ختیځ کې د برتانوي امپریالیزم د "ځواک څاګانې" [تیل] وساتي. امپریالستي برتانیا افغان ملت ته، چې پرخلاف یې مقاومت کړی و او په سیمه کې یې د پرنګي اوږد مهاله اجندا ناکامه کړې وه، ژووره کینه په زړه کې ساتله. کلک تصمیم یې لاره چې د افغانانو پر لاس د لومړي، دویم او دریم جنګ په بهیر کې یې د خپلې ماتې بدل واخلي. په ۱۹٤۷ زیږدیز کال کې د "برتانوي پاکستان" له زیږولو سره یې د کسات اخستلو تنده ماتول د لارد وېول/جناح/لارډ مونټباټن پاکستان پر اوږو کیښودل. او پاکستان دا دنده په خورا ښه توګه سر ته رسوله. د پرنګي دایې پر لاس له زېږېدو راهیسې، "اسلامي پاکستان" د اسلام له نوم څخه ـ د اسلام د کاواکولو ـ اوافغان ملت د تجزیه ساتلو او نابودولو لپاره په ریاکارانه او منافقانه توګه ګټه پورته کړې ده.
دا پروسه لا اوس هم دوام لري.
مارک کرټیس د "مرموزې چارې" تر سرلیک لاندې کتاب [په ۲۰۱۰ کال د سرپینټ ټېل خپرونه، لندن] په ۳۱۳ مخ کې لیکي چې: "په منځني ختیځ کې د برتانیا اوسنۍ کړنلاره هم د هغې اقتضا پر بنسټ ولاړه ده لکه کومه چې د تېرې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

پیړۍ په بهیر کې وه. له طالبانو او په اسلام اباد کې دهغوی له ملاتړو سره معامله؛ د اخوان المسلمین او "پروفیسرانو" څخه مزورانه ګټه پورته کول هغه پالیسۍ دي چې د برتانوي پلانوونکو د پخوانیو نسلونو لپاره به د پېژندنې وړ وي ... د برتانیا حکومت، په واقعیت کې اوس بیا له اسلامي اکټرانو سره لاس-لستونی، غواړي په افغانستان کې کوم څه چې د ژغورلو وړوي، وژغوري او هلته د خپلې بهرنۍ پالیسۍ موخې تر لاسه کاندي. دا له یوې خوا، د یوې ډلې طالبانو سره معامله وکړي ترڅو په هغه هیواد [افغانستان] کې ترې د "بیل یې کړه، ایل یې کړه" ستراتیژي مخ پر وړاندې بوځي، او له بلې خوا له پاکستان سره په تباني کې واقعاً د هغه ملاتړ د بیا نوي کولو ملاتړ وکړي چې په ۱۹۹۰ کلونو کې یې طالبانوته رساوه. طالبان تر ډېره حده د دې لپاره زیږول شوي وو ترڅو اسلام اباد پر افغانستان حکومت وکاندي".
د برتانیا له خوا د همدې "مرداري لوبې" د لوبولو له کبله ده چې په افغانستان کې جګړې شدت موندلی دی. د دې لپاره چې پر سیمه خپله ښکیلاکي ولکه خوندي وساتي، برتانیا په عمدي توګه دا وضع پُنځولې ده. "په سهیلي ولایت، هلمند، کې جګړې - هغه ځای ته د ۲۰۰٦ کال په مې میاشت کې د برتانوي ځواکونو له استولو څخه وروسته - په تدریجي توګه شدت موندلی دی." د دې دوه مخې یوه بیلګه اټکل دوه کاله د مخه له هلمند څخه د دوه تنو هغوبرتانوي څارګر "د ډیپلوماتانو" شړل دي چې پخپل سر له طالبانوسره "په سوله کولو" بوخت وو. پدې توګه "د برتانیا حکومت په بشپړه مانا توقع لرله چې په لویه کچه به جګړه وپاروي. د افغانستان جمهور رئیس، حامد کرزی، د ۲۰۰۸ کال په جنورۍ کې یوې مطبوعاتي مرکې ته د وینا په موکه پر برتانیا نیوکه وکړه چې "کله هغوی [برتانویان] راغلل، طالبان هم راغلل ". نوموړي په ساده توګه هغه خبره لوڅوله چې برتانوي مامورین پرې مخکې د مخه خبر وو. له دې سره-سره برتانویانو د کرزي د تبصرې په اړه شدیده غوسه څرګنده کړه." دا یو بربنډ راز دی چې برتانیا له پاکستان سره په انډیوالۍ کې غواړي په افغانستان کې جګړه دوام وومومي چې قربانیان یې افغان ملت دی. په یوه استخباراتي رپوټ کې، بارنیټ روبین، دا واقعیت "تائید کړی او په یوه برخه کې یې لیکي چې: دا خبره چې ګوندې د جګړې د دوام لامل د پاکستان ملاتړ نا، بلکې بیوزلي او ناپرمختیا ده، د کره کتنې پر وړاندې اتبار نه لري. "
د شوروي امپراتورۍ له نړېدو سره، لویدیځ په سره جګړه کې ځان سوبمن وګاڼه. د دې سوبې ادعا د ضیا پر لاس د افغانانو د وژلو، معیوبولو، بې‌کوره کولو په ژوند او مرګ ورکو تنکیو ماشومانو د قربانیو په نتیجه کې وشوه. د ملیونونو افغان لوڼو زامنو اوښکې او وینې وبهېدلې؛ افغان هیواد اود افغانانو اور او نغري په بشپړه توګه تالا او نابود شول. ګرد "فاتحان" لاړل. اسامه بن لادن هم د هغوی په ډله کې و. خو یو څه وروسته، کله چې یې د خپلو غربي او غرب-مشربه لاسپوڅو پر وړاندې نافرماني وکړه، پر بن لادن ځمکه اور وګرځول شوه او له یوه ځایه بل ځای ته په تېښته مجبور کړل شو. په نتیجه کې نوموړی د امریکا تر فشار لاندې له سودان څخه، چیرې چې د سعودي شهزادګانو له خوا شړل شوی و، وتلو ته وتړل شو. "له خپلې ډلې سره یوځای، بن لادن د کډه کولولپاره محدود انتخاب درلود: پاکستان یا افغانستان. افغانستان یې خوښ کړ او د ۱۹۹٦ کال د مې په میاشت کې هلته لاړ." ایا ولې بن لادن د پاکستان پر ځای، افغانستان غوره وباله؟ دا ځکه چې د پاکستان پوځي-بیروکراسۍ او د هغه برتانوي او امریکایي بادارانو دا مهال پریکړه کړې وه چې هر خطر او هر خطرناک عمل افغانستان ته ولېږدوي او پر افغانانو یې و تپي. دا واقعیت د مخدراتو د کر؛ د افغانانو د نابودولو د پروژې د دوام اود کشمیر "جهاد" لپاره د روزنې او روزنیزو کمپونو په شمول هم رښتیا و.
روهان ګونارتنا لیکي چې د "کیني-میني-خدمات" تر پوښ لاندې، د اسامه ځواکمن او اتباري انډیوال، ابو زبیده، په پاکستان کې د القاعده عملیات اداره کول اود هغو په اړه یې ده ته معلومات ورکول. کله چې اسامه – د خپلو دریو ښځو اوګڼ شمیر کوچنیانو سره یو ځای – افغانستان ته ورسېد، نو له زبیده سره یې اړیکې لا نور هم نږدې شول. ابو زبیده دا مهال، له اسلامي نادولتي سازمانونو سره پر اړیکو سربیره، د هغو استخدام شویو وګړیو د لارښوونې دنده هم پر غاړه درلودله چې افغانستان ته استول کیدل. په اسیا کې له اسلامي ترهګرو ډلو او سیاسي احزابو سره یې هم اړیکې ساتل." (۹۳ مخ )
د استاد کاندید اکادمیسن سیستانی له شخصیت اولیکنو سره دا لیکوال (غلام محمد زرملوال) په بشپړه توګه اشنا دی. نوموړي استاد د هیواد له سترو ګټو څخه د دفاع په لار کې په خورا میړانه او صداقت دفاع کړې، له همدې کبله د هغه نظر خورا ستر وزن لري. استاد لیکي: "طرح چنین یک موضوع حساسیت برانگیز در یک چنین شرایطی که افغانستان دچار بحران نا امنی و گسترش ترورها و عملیات بمب گذاری و انتحاری طالبان صادر شده از سوی سازمان استخبارات نظامی پاکستان (آی اس آی) به داخل افغانستان است، ذهن و افکار انسان را بسوی غیر از سمت منافع علیای افغانستان می برد نکند که در زیر نام داعیه الحاق سرزمین های آنسوی خط دیورند به افغانستان تلاش صورت بگیرد تا بخش های دیگر ازولایات شرقی افغانستان زیر نفوذ پاکستان برده شود و یا زمینه سازی برای برسمیت شناختن این خط منحوس بدون بدیل مناسبی باشد و دل اربابان پنجابی را شادمان کند."
په باوري توګه د استاد لیکنه، تشویش او بدګماني په جوتو ټکیو کې په خورا احتیاط وړاندې شوي. پدې دسیسه بازه نړۍ کې په ظواهرو ځان غولول د خپل ملت غولول دي. خو په خپل وار دا لیکوال، د ډیورند جرګې د شورا د یوه غړي په توګه، استاد سیستاني ته وعده ورکوي چې پخپله اویا د ډیورند جرګې هغه صادق مشران چې پدې هڅه یې لاس پورې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړی دی، نه د آی اس آی نوکران دي او نه د ځمکې پرمخ د بل مادي قوت. د هغوی هوډ له افغان وژني ځخه د مخنیوي پر لور په خپله د ننګیالي ۷۵ ملیوني افغان ملت پر متو داډ او پر رب الجلال توکل دی.
پدې برخه کې پاس د شورا یادونه وشوه. د دې لپاره چې پر ریاستونو د جګړې موضوع له منځه ولاړه شي، د ډیورند جرګې څو میاشتې د مخه په هالنډ کې فیصله وکړه د ځانګړو ریاستونو پر ځای دې یوه واکمنه لویه شورا جوړه شي چې د بشپړ تشکیلاتي او اجرائیوي صلاحیت خاونده وي. اوس همدا شوری د ټولو دندو په برخه کې تصمیم نیسي. د هغې متن په ویبپاڼو کې خپور شوی دی اوکه استاد وغواړي، نو متن به ورته واستول شي.
پدې توګه د ډیورند جرګې لویه شوری پدې عقیده ده چې افغان وژنې ته یواځې هغه وخت د پای ټکی ایښودل کیدای شي چې افغانان د خپلوحقه حقوقو د پر لاس ته راوړلو په لار کې قربانیو ته چمتو شي. زموږ مبارزه پر عدم تشدد ولاړه ده. پدې لار کې نه د چا خونه ورانول غواړو او نه ترې نه پوښتنې ته ضرورت لرو. دې ملت د "ډیورند لاین" کرغیړنه او خیالي کرښه، چې په نتیجه کې یې ۱۱۷ کاله په ملیونونه افغان لوښې زامن په خپلو وینو کې لمبول شوي اولمبول کیږي، نه منلې، نه یې مني او نه به یې ومني.

یا ربه توفیق!


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ